# آیا په افغانستان کې امنیتي شرکتونه د ستونزو یوه برخه ده؟

**Author:** IWPR Afghanistan

د افغاني او نړیوالو ماهرینو د وینا له مخې امنیتي شخصي شرکتونه د رواني ناقانون زیاتېدو ته لمن وهي.
(تېرو) جګړو کې په لاس ته راوړل شوو مهارتونو باندې د خپلې وړتیا او مهارت څرګندونه کوي.

زیات شمېر پورته نومول شوو خلکو شخصي امنیتي شرکتونه جوړ کړي، چې د بانکونو، سفارتونو، نړیوالو موسسو او آن د پلازمینې د یو شمېر رستورانونو امنیت ساتي.

اوسمهال حکومت په درنو وسلو سمبالې او اجازه نه لرونکي دا ټول شرکتونه بندوي، په دې چې وايي، یو شمېر یې د وسله والو غلاوو، یرغمل نیولو او وژنو په ګډون په سترو جرمونو کې لاس لري .

یوشمېر څارونکي اندېښنه لري، چې ښايي د امنیتي شرکتونو تړل به روانه خرابه وضعه لا پسې ناوړه کړي. افغان پولیس د هغوی تشه نه شي ډکولای. هغوی ټینګار کوي او وايي چې ښايي په زرګونه وسله وال او بېروزګاره سړي لارو کوڅو ته راوځي او د لا بې ثباتۍ لامل شي.

په جرمونو باندې د امنیتي شرکتونو ککړ کارکوونکي

د کورنیو چارو دوزارت ویاند، زمري بشیري وویل: "د تېرو څو میاشتو راهیسې موږ بیا غور او ارزونه وکړه. موږ دې پایلې ته ورسېدو، چې زیات شمېر وسله والې غلاوې او قتلونه ددې شرکتونو د کارکوونکو له خوا تر سره شوي دي. د وسلو ناقانونه کارول او خرڅلاو هم ددې شرکتونو په منځ کې یوه عادي خبره ده."

یو څو سترې پېښې ددې ادعا شاهدې دي. د بېلګې په توګه د اګست په میاشت کې د امنیت یو برتانوي ماهر په داسې حال کې وویشل شو او ووژل شو، چې 200 زره ډالر یې لېږدول. پولیسو د هغه د شرکت کارکوونکي تر پوښتنو ګرویګنو لاندې ونیول.

بشیري وویل: "موږ د امنیتي شرکتونو یو شمېر کارکوونکي بندیان کړي دي. دا کارکوونکي په وژنو، یرغمل نیولو او سوله والو غلاوو کې ښکېل و. موږ به له هغوی سره له قانون سره سم چلن وکړو."

د کورنیو چارو وزارت تراوسه پورې لس امنیتي شرکتونه تړلي دي او په دې وروستیو ورځو کې یې په یو شمېر نورو باندې هم چپاو وروړی دی.

په یو نړیوال شرکت کې د 60 کلاشینکوفونو، نهو درنو ماشنګنو او د زیاتې اندزې مهماتو په ګډون ډېره اندازه وسله ومونډل شوه.

په هېواد کې د امنیتي شرکتونو د شمېر په اړوند بېلا بېل اټکلونه شته دی. د بشیري د وینا له مخې اوسمهال 60 امنیتي شرکتونه فعالیت کوي. په هغوی کې په ټولېزه توګه له 18000 څخه تر25000 تنو پورې ګومارل شوي دي. زیاتره یې په کابل کې فعالیت کوي.

بشیري وویل، درې ډوله امنیتي شرکتونه د کورنیو چارو دوزارت له خوا تر پلټنې اوڅېړنو لاندې دي.

هغه وویل: "لومړی هغه شرکتونه دي، چې په جرمونو کې د هغوی د لاس لرلو په هکله معلومات تر لاسه شوي دي. دومه ډله یې هغه

شمېر دي، چې د کورنيو چارو په وزارت کې ثبتې شوي نه دي او دريمه يي هغه ډله ده، چې اجازه ليک يي پای ته رسيدلی دی. دا ټولې ناقانونه دي."

هغه وويل نوموړی وزارت د امنيتي شرکتونو د فعاليت د تنظيمولو لپاره په يوې نوې مقررې کار کوي. نوموړي وويل: "د کورنيو چارو او عدليې وزارتونه په ګډه په يوې مسودې کار پيل کړی دی. په دې مسودې کې د وسلو، يونيفورم، دندو او مکلفينوتو په ګډون په ټولو شرايطو او جغرافيايي محدوديتونو خبرې کيږي."

بشيري زياته کړه، امنيتي شرکتونه نارام ته لمن وهي او وضعه نوره هم پسې ناوړه کوي.

هغه وويل: "هغوی موږ ته سرخوږی راپيدا کړی دی. موږ به هغوی ټولې وتړو."

ملېشې د تجارتي توکو په بڼه اړول شوي دي

سړي او د هغوی وسلې په افغانستان کې کومه نوې خبره نه ده، چې د لسيزو جګړو او کورني اړودوړ په بهير کې رالوی شوي دي. د نوي يمو کلونو کورن جګړې د ملېشو زياتره پخواني قوماندانان د بېوسلې کولو له يو يا بل نا اغېزمن بهير څخه تېر شوي دي، خو لا تر اوسه د وسلو زېرمې او وفالرونکي پلويان لري. هغوی په داسې حال کې چې خپل پخوانی زور او واک يي ساتلی، له دې لارې ګټور امنيتي شرکتونه جوړ کړي دي.

د بغلان ولايت د بلخمري اوسيدونکي، محمد ناصر آی ډبليو پي آر ته وويل، يو پخواني سيمه ييز زورځواکی اوس په "بدله بڼه" د يو امنيتي شرکت مشري کوي.

ناصر وويل: "نوموړي قوماندان خپل ټول سړي راټول کړي او نوی يونيفورم يي ورته ورکړی دی. هغوی ښايي د ناحکومتي موسسو څارنه وکړي، خو هغه قوماندان هغوی د خپل زور او واک د ښکارندوي لپاره کاروي. خلکو ته هغه اوس هم يو قومادان دی. هغه تر اوسه وسله وال دی. هغه هر هغه څه کوي، چې زړه يي وغواړي."

هغه وويل، دا کار په بغلان کې د وضعې د خرابيا لامل شوی دی.

هغه وويل:"کله چې خلک په لارو کوڅو کې د (نوموړي) شرکت وسلې او ځانګړې موټري ګوري، نو د ډاراحساس کوي. هغوی له دې قوماندانانو څخه ښې خاطرې نه لري، چې يو مهال يي په دې لارو کوڅو کې خپل زور چلولو."

خو دا به اسانه نه وي چې دا خصوصي امنيتي شرکتونه له منځه يوړل شي او يا د هغې په خدمت سترګې پټې شي.

د افغانستان د مخ پر ودې بې ثبات له مخې زياتره موسسې له وسله وال حمايت پرته کار کولو ته زړه نه ښه کوي. افغان پوليس په دې برخې کې پوره مرسته نه شي کولای، ترڅو د زيات شمېر کورنيو او بهرنيو موسسو امنيت وساتي. زيات شمېر خلک په پوليسو باندې هم باور نه لري.

د فارياب په ولايت کې د سړک جوړونې د چينايي شرکت يو چارواکي وويل: "پوليس د حکومت، ښارونو او لويو لارو امنيت نه شي نيولای، په افغانستان کې په زرګونه فعاليت کوونکي موسسې خو لا پرځا پرېږده. که چېرته حکومت زموږ امنيتي شرکتونه وتړي، نو دا تضمين نه شو کولای، چې هيڅوک به زموږ امنيت وساتلای شي."

د مقررو نشتوالی

تر ننه په افغانستان کې هیڅ یو امنیتي شرکت ته داسې کومه لاره برابره شوې، ترڅو په عراق کې د امریکایي بلکواټر(Blackwater) امنیتي شرکت په څېر د 16 تنو ولسي خلکو په وژلو تورن نه شي.

خو لکه د عراق په څېر د حقوقو او مسوولیتونو نه ویش د ډار او ناامنۍ شک رامنځته کړی دی.

د امینتي شخصي شرکتونو په اړوند د سویس د سولې د څېړنو د انستیټیوت له خوا د نومبر د میاشتې د څپاره شوي رپوټ لیکوالې سوسانې شمایدل وویل: "افغانان نه پوهیږي، چې امینیتي شرکتونه څه شی دی او د هغوی په هېواد کې څه کوي. زیات شمېر افغانان د امنیتي شخصي شرکتونو او نړیوالو وسله والو ځواکونو او د خپلو افغاني ملي پولیسو او ملي اردو تر منځ توپیر نه شي کولای. په دې هکله عمومي ابهام موجود دی."

نوموړې لیکواله ټینګار کوي، شرکتونه باید ډېر ښه تنظیم شي، ترڅو خلک ډاډ تر لاسه کړي، چې امنیتي شرکتونه جرمونه سرته نه رسوي، بلکې نور مهم کارونه کوي. هغه خلک چې وايي امنیتي شرکتونه ببروزګاره خلکو لپاره روزګار پیداکوي او که نه، نو خلکو ته به خطر پېښ کړي د هرو مرو محاسبې ورځ شاته غورځوي.

شمایدل وویل: "ښايي داسې مثبت بحثونه روان وي، چې خصوصي امنیتي شرکتونه په کار باندې د ګومارلو له لارې پخواني زورځواکي او د هغوی ملېشې له لار او کوڅو څخه راټولوي ... خو باید هغه ورځ هم په پام کې ونیول شي، چې د هغوی قراردادونه پای ته رسیږي."

شرکتونه وايي هغوی ارزښتمن رول لوبوي

شخصي امنیتي کمپنۍ د خپل شتون دفاع کوي او په ټینګه وايي، چې هغوی ډېر ارزښمتن کار کوي.

د رنکوRANCO په نوم د نړیوال امنیتي شرکت یو چارواکی، امیر محمد، چې هم ماینونه پاکوي او هم امنیتي خدمت سر ته رسوي، وايي د هغه شرکت معتبر اجازه لیک لري او تړل شوې نه ده. خو لا تر دې دمه د نورو امنیتي شرکتونو د تړولو په اړوند د کورنیو چارو د وزارت له پلان سره مخالف دی.

هغه آی ډبلیو پي آر ته وویل: "دا د کورنیو چارو د وزارت غلطي ده. په زرګونه خلک په دې شرکتونو کې کار کوي. لارې او سړکونه له هغوی څخه پاک شوي دي. دا شرکتونه زیاته اندازه کلنۍ مالیه هم ورکوي. دا کار به د حکومت په مخ یوه مالي څپېړه وي. بهرني شرکتونه د افغان (دولت) په امنیتي موسسو ملا نه تړي. که چېرته شخصي شرکتونه وتړل شي، هیڅ یو بهرنی به په افغانستان کې پانګه وانه اچوي."

امیر محمد وویل، که د رنکو او نور ماین پاکوونکو موسسوامنیت تضمین نه شي، نو له خطر سره به مخامخ شي.

هغه وویل: "که حکومت خپل پلان په مخ یوسي، نو ماین پاکي به په افغانستان کې ودریږي. هیڅ بهرنی به له ساتونکي پرته په ځینو ځانګړو سیمو کې کار ونه کړي. موږ په هلمند، کندهار او جلال اباد کې کار کوو. هلته پولیس امنیت نه شي تامینولای."

خو د کورنیو چارو وزرات ددې شرکتونو د تړلو په اړوند پریکنړه دی، چې له قانون بهر کارکوي.

بشیري وویل: "د مفسدې موسسې له لرلو څخه نه لرل غوره دي. موږ ته ثابته شوه، چې دا موسسې ګټورې نه دي. موږ به هغوی د اجازې ورکولو بله لاره ولټوو. څنګه چې کاري تګلاره وجود نه لري، له دې امله د هغوی ټول اوسني فعالیتونه غیرقانوني دي."

آیا پولیس دا تشه ډکولای شي؟

بشیري ټینګار ګوي، چې د کورنیو چارو وزرات به دامنیتي شرکتونو له تړلو وروسته امنیتي پوښښ رامځته کړي.

هغه وویل: "کله چې دا شرکتونه وتړل شي، مور به له خپلو ځواکونو څخه د امنیت د تامین لپاره کار واخلو. خیریه موسسې او تجارتي شرکتونه به خوندي وي اوهیڅ شکایت به رامنځته نه شي."

خو د افغانستان په شمال کې د سیاسي چارو شنونکی، محمد فرید حکیمي په هېواد کې مخ په خرابېدو وضعې ته ګوته نیسي او شک څرګندوي، چې ګوندې د کورنیو چارو وزارت دې د وضعې د کابو کولو لپاره چمتووالی ولري.

هغه وویل: "حکومت به دا شرکتونه وتړي، خو دا تشه څنګه ډکوي؟ هغوی د پولیسو شمېر د اړتیا وړ کچې ته نه شي لوړولای. که اوس د کورنیو چارو وزارت د بانکونو او ناحکومتي موسسو امنیت په خپل لاس کې واخلي، نو ښایي چې امنیتي تشه لا پسې پراخه شي."

پر دې برسېره د پخوانیو قوماندانانو او د هغوی د وسله والو ملېشو د زور د اوبو کولو زړه ستونزه لا هم پرته ده.

حکیمي وویل: "حکومت باید دا ستونزه په داسې یوې لارې حل کړي، چې وضعه نوره هم پسې ناوړه نه شي. د زیاترو شخصي شرکتونو خاوندان پخواني قوماندانان او دهغوی سړي دي. که چېرته دا شرکتونه وتړل شي، دا خلک به یو ځل بیا د خپلو مشرانو خواوشاته راټول شي او د هغوی کنترولول به ناشوني شي."

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%A2%D9%8A%D8%A7-%D9%BE%D9%87-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%DA%A9%DB%90-%D8%A7%D9%85%D9%86%D9%8A%D8%AA%D9%8A-%D8%B4%D8%B1%DA%A9%D8%AA%D9%88%D9%86%D9%87-%D8%AF-%D8%B3%D8%AA%D9%88%D9%86%D8%B2%D9%88